ارشاد نبوی

آســـاني کنيد و ســختي نکـــنيد و مردم را آرام سازيد و نفـــرت نه بخشيد .

(بخاري و مسلم)

شریعت

اوونيزه

دافغانستان دطالبانو داسلامي تحريك مركزي نشراتي ارگان

فرمان الهي

خداوند تعالیٰ مي فرمايد : " و آنانيکه مي رنجانند مـردان و زنان مـؤمن را بدون اينکه گناهي کـردہ باشند هر آئينه بار بهتان و گناہ واضحي برداشته اند ."

(احزاب ٥٨)

دوهم کال پنځه ديرشمه گـڼه پرله پسي (٨٥) | چهارشنبه د١٣٧٦ هـ ش کال د وږی دمياشتي (١٢) | د١٩٩٧ ميلادي کال سپتمبر (٣) | د١٤١٧هـ ق کال د ربيع الثاني (٢٩)

تذکر خطر ايمان است اگـر به اين کلمات مقدس بي حرمتي کنيد .

جهادی کتابتون پرانستل شو

د جهاد د دوران د اثارو کتابتون د روان کال د وږي د مياشتي په تهمه نيټه د عامه کتابتونونو او ملي آرشيف د رياست په چوکاټ کي د يو لوړ شاندارو مراسمو په ترڅ کي پرانستل شو .

د شريعت اوونيزي خبريال خبر راکړ په هغو مراسمو کي چي له هندي امله د عامه کتابتون په تالار کي پر ځاي شوي و د افغانستان د اسلامي دولت د قاضي القضات مرستيال او د ستري محکمي کفيل محترم مولوي جليل الله مولوي زاده، د اطلاعاتو او کلتور وزارت نشراتي معين محترم مولوي رحيم الله زرمتي ، د اطلاعاتو او کلتور وزارت مالي او اداري معين او د شريعت اوونيزي مسؤول مدير محترم الحاج مولوي عبدالرحمن احمد هوتك ، ددي وزارت رئيسانو ، لوړرتبه کارکوونکو او منسوبينو، د ستري محکمي مشرتابه هيأت ، فرهنگيانو د کتاب مينه والو د کتابتونونو کارکوونکو او مسؤولينو او يو شمير ژورنالستانو گډون کړئ ؤ .

د مراسمو په پيل کي د کلام الله مجيد څو ايتونه ولوستل شول

او وروسته محترم مولوي جليل الله مولوي زاده د پټي په پري کولو سره دغه کتابتون پرانست او په اسلامي افغانستان کي ددغه شان کتابتونونو د رول او د جهادي اثارو د راټولولو په برخه کي يې ددي وزارت د کارکوونکو د هلو ځلو او زيارستاينه وکړه او ويې وغوښتل چي ددي برخي په ساتنه کي زياته پاملرنه وکړي .

وروسته د عامه کتابتونونو رئيس محترم

تلوړم مخ

محترم عاليقدر امير المؤمنين د کابل ، لغمان او هلمند واليان خپل حضور ته ومنل

عاليقدر امير المؤمنين د خپل کار په دفتر کي د هلمند والي محترم ملا عبدالباري اخند، د لغمان والي محترم مولوي نور الله نوري ، او د کابل والي محترم مولوي عبدالمنان نياري په جلا جلا توگه د کتني لپاره خپل حضور ته ومنل .

د کندهار له ښار نه د باختر اطلاعاتي آژانس خبريال خبر راکړ : ددغو کتنو په ترڅ کي د هلمند ، کابل او د لغمان د ولايتونو واليانو ددغو ولايتونو د سياسي پوځي او نورو حالاتو رپوټونه د عاليقدر امير المؤمنين حضور ته وړاندي کړل اود لارښوونې غوښتنه يې وکړه .

او عاليقدر امير المؤمنين د امنيتي شرايطو د لا ښه والي او د هلمند ، کابل او لغمان د ولايتونو د ښيا جوړوني په ارتباط ددغو ولايتونو واليانو ته لازمي لارښووني وکړلي .

د يو بل خبر له مخي عاليقدر امير المؤمنين د وږي د مياشتي په لسمه د افغانستان د اسلامي دولت د ښوونې او روزني سرپرست وزير محترم سيد غياث الدين اغا هم خپل حضور ته ومانه. په دي کتنه کي محترم سيد غياث الدين د خپل کار او فعاليت راپور عاليقدر امير المؤمنين ته وړاندي کړ او د محترم عاليقدر امير المؤمنين لخوا ورته لازمي لارښووني وشوي .

مشورتي اقتصادي شوري جوړہ شوہ

هيوادوالو ته د ارتيا وړ لومړنيو موادو د توريد په خاطر د افغانستان د اسلامي دولت د مشورتي اقتصادي شورا غونډه جوړه شوه .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ د مشورتي اقتصادي شورا په غونډه کي چي د مالي وزارت لومړي معين محترم مولوي عارف الله عارف، د افغانستان بانك عمومي رئيس محترم مولوي عبد الرحمن زاهد ، د مشورتي اقتصادي شورا د تجارتي برخي مرستيال او د سوداگري او متابعو د برخو استازو گډون کړي وو له هغه وروسته چي د کلام الله مجيد څو ايتونه ولوستل شول ددغي شورا د تشکيل اساسنامي او د کار او فعاليت د

ص ٤

د کابل کوپراتيف فعال شو

د کوپراتيف چي له ډيري مودي را پديخوا غير فعال وو د مسؤولينو د هلو ځلو له امله بيا فعال شويدي او په مشترکينو باندي د موادو ويشلو ته چمتو دي .

ددغه کوپراتيف مشترکين کولي شي چي له اصولو او قوانينو سره سم له دي کوپراتيف نه کتنه واخلي .

په ډيره پيمانه چاوديدونکي او تخريبي مواد چي له ايران نه په پټه افغانستان ته واردېدل د سرحدي امنيتي موظفينو لخوا ونيول شول

د پرسونل ضد يو شمير ماينونه او چاوديدونکي مواد چي د ايران له پولي نه د افغانستان د اسلامي دولت خاوري ته ليږدول کېدل د هيواد د ويښو امنيتي پوځونو لخوا د افغانستان او ايران تر منځ پولو کي کشف او تر لاسه شول .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ ځلوروښت لوي ماينونه ، شپږ ويجاړونکي ماينونه، د پرسونل اته ماينونه ، ديرش کڅوري باروت ، او د ايران په هيواد کي جوړه شوي يوه چاوديدونکي دستگاه چي د

ص ٥

د ناروی موسسي د اتاترك روغتون د بيا احيا کولو په غرض د عامي روغتيا له وزارت سره ديارلس زره ډالره مرسته وکړه

د ناروي موسسي د اتاترك روغتون د بيا احيا کولو په مقصد د عامي روغتيا له وزارت سره د ديارلسو زرو ډالرو مرسته وکړه .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ د اتاترك روغتون د ترميمولو او بيا احيا کولو پروتوکول د عامي روغتيا وزارت او د ناروي د خيريه موسسي تر منځ لاسليك شو .

دغه پروتوکول د عامي روغتيا وزارت معين محترم داکتر سيد فضل رباني د ناروي موسسي له رئيس سره لاسليك کړ او ددي موسسي مسؤولينو د روغتون د بيا احيا کولو په مقصد ديارلس زره ډالره د عامي روغتيا وزارت ته ورکړل .

دا روغتون د ناروي موسسي او د عامي روغتيا وزارت په همکاري ترميميږي .

د يو بل خبر له مخي د عامي روغتيا وزارت معين د خيريه موسسو له مسؤولينو سره د يوي کتني په ترڅ کي د کابل ښار له روغتونونو سره په روغتيايي او خدماتي برخو کي د خيريه

تلوړم مخ

يك قـاتل حين قتل يكتن از هموطنان ما در مربوطات حوزه دهم پوليس بالفعل دستگير گرديد

خبرنگار هفته نامه شريعت خبر داد :

معراج الدين فرزند محمد امين سکونه ولايت پروان، ساعت ١٠:٣٠ قبل از ظهر يکشنبه نهم سنبله سال روان در چهارراهي صحت عامه مربوط ساحه حوزه دهم پوليس؛ جنايت کار فرزند خرم دل يکتن از هموطنان ما را روی خصومت شخصي توسط چاقو به قتل رسانيد، از جانب منسوبين ماموريت چهارم حوزه دهم امنيتي پوليس دستگير گرديد.

قضيه تحت بازپرس شرعي و قانوني قرار دارد .

محترم الحاج مولوي عبدالرحمن احمد «هوتك» معين مالي و اداري وزارت اطلاعات و کلتور و مدير مسؤول هفته نامه شريعت در مصاحبه با هفته نامه شريعت :

هدف از تأسيس همچو مراکز و ادارات حفظ ارزش هاي بزرگ معنوي جهاد مي باشد

رابطه با اسرائيل سراسر مخالف و متضاد با انديشه هاي اسلامي و خواسته هاي ملي ما و جامعه امت اسلامي مي باشد

خوانندگان گرانقدر !

شايد شنيده باشيد که وزارت اطلاعات و کلتور دولت اسلامي افغانستان به خاطر حفظ آثار علمي، فرهنگي و ادبي دوران جهاد کتابخانه، را بنام «جهادي کتابتون» اساس گذاشت و همچنين شايد شنيده باشيد که راديوي اسرائيل افشا نموده است که مسعود- رباني ضمن يك پيام از مقامات رژيم غاصب قدس خواهان به رسميت شناختن متقابل حکومت هاي يکديگر گرديده اند . ما به خاطر اهميت و روشن شدن اين دو موضوع مصاحبه، را با محترم الحاج

صه ٤

د اسلامي اردو د امنيتي ځواکونو د تصفيوي عملياتو په نتيجه کي په سلهاو ميله سپکه او درنه وسله تر لاسه شوه

د اسلامي اردو د امنيتي ځواکونو د تصفيوي اوپراتيفي عملياتو په نتيجه کي چي د رواني مياشتي په شپږمه اومه، اتمه او نهمه د لوگر ولايت ، دغزني ولايت د مقر په ولسوالي د ميدان وردك ولايت ، د سيد اباد په ولسوالي، کوه صافي، ننگرهار او د کابل ولايت په بيلا بيلو ولسواليوکي تر سره شول دوه ٧٢ ملي متري ، دوه ٧٥ ملي متري، دوه ٨٢ ملي متري توپونه، شپږ پايي RPG7 راکټ انداز، پنځه ميله هاوان توپونه، دوه پايي گرينوف

تلوړم مخ

د پوليسو په روغتون کي د اکسريز يو ماشين د استفادي وړ وگرځيد

د پوليسو په روغتون پوري مربوط د اکسريز يو ماشين په دي وروستيو وختو کي ترميم او د استفادي وړ وگرځيد .

د باختر د اطلاعاتي آژانس خبر راکړ د اکسريز دولس پي - شپږ ماشين چي له څه مودي را پديخوا وران او له فعاليته لويدلي و په دي وروستيو وختو کي ددغه روغتون د روغتيا يي خدمتونو د تخنيکي پرسونل د هلو ځلو له امله فعال او د استفادي وړ وگرځيد .

دغه ماشين په فعاليدو سره د افغانستان اسلامي دولت ته د څه دپاسه لسو مليونو افغانيو گټه ورسيده

يو تن غل او وژونکي د هلمند په ولايت کي ونيول شو

يو تن وژونکي په دي وروستيو وختو کي د هلمند ولايت په مربوطاتو کي ددغه ولايت د امنيتي موظفينو لخوا ونيول شو .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ ددغه ولايت دواشير د ولسوالي د کرکان د کلي اوسيدونکي عبدالرحمن د عبدالباقي زوي چي له زياتي مودي را په ديخوا يي زمونږ د هيوادوالو د مالونو په غلا کولو او وژني لاس پوري کاوه په دي وروستيو وختو کي له هغه وروسته چي ددغي ولسوالي د بولان د کلي د اوسيدونکي عبدالواحد د محمد سعيد د زوي

تلوړم مخ

ربانی او مسعود د اسلامی امت گډ دښمن(اسرائيلو) ته ويلی دي چی :

تاسي موږ په رسميت وپيژني او موږ به تاسي په رسميت وپيژنو

رباني او مسعود د اسلامي امت گډ دښمن(اسرائيلو) ته ويلي دي چي ؛ تاسي موږ په رسميت وپيژني او موږ به تاسي په رسميت وپيژنو اسرائيلي مقاماتو د رباني له دي وړانديز سره موافقه کړيده او په مسکو کي يې خپلي سفيرې ته ويلي دي چي د متقابلي پيژندني لپاره له رباني سره رسمي مذاکرات پيل کړي

د هيواد ورځپاڼي په خپلي پرله پسي ٥٥٩ د روان کال د وږي د مياشتي د نهمي نيټي گڼي کي د اسرائيلو راديو د وږي د مياشتي د اتمي، ١٩٩٧م اگست ٣٠ مي ماښامني دري خپروني له مخي ليکلي دي چي رباني او مسعود په مسکو کي د خپل سفير له لاري لومړی په مسکو کي د اسرائيلو سفارت او د هغوی لاري بيا د اسرائيلو د بهرنيو چارو وزارت ته په خپل يو ورليږلي پيغام کي ليکلي دي چي تاسي زمونږ حکومت په رسميت وپيژني او په مقابل کي به موږ ستاسو حکومت په رسميت

تلوړم مخ

کابل ښار په پکتيا کوټ کي د يو جومات د پښتي ډيره کښېودل شوه

د کابل ښار د نهمي ناحيي مربوط پکتيا کوټ کي د ميا عمر د جومات د پښتي ډبره د رواني مياشتي په ٧ نيټه کيښودل شوه .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ دغه جومات د سيمي د خلکو په همکاري او د يو تن سوداگر محمد نادر لخواد لسو مليونو افغانيو په مرستي سره جوړيږي او ډير ژر به د لمونځ کوونکو د استفادي وړ وگرځي .

د موسسو د ثبت او راجستر کميسون اووه خيريه مؤسسي ثبت او راجستر کړي

د کورنيو او بهرنيو خيريه موسسو د ثبت او راجستر کميسيون د روان کال د وږي د مياشتي په تهمه د يوي غونډي په ترڅ کي اووه خيريه موسسي ثبت او راجستر کړي .

دي کميسيون د افغانستان د بيا جوړوني او پراختيا خيريه

تلوړم مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د هيواد د سوکالي دښمنان ولي له خبرو اترو نه ډډه کوي ؟

د گلم جم مليشي او د دروغژن ائتلاف اتلپوالان يي که څه هم په خوله د خبرو اترو او سولي خبري کوي مگر په حقيقت کي داسي رښتينو خبرو اترو ته چمتو نه دي چي د هغو په نتيجه کي سوله او ارامي راشي، د هيواد خپلواکي او ځمکني بشپړتيا وساتله شي، اسلامي شريعت په ټوله معنا سره عملي، ويجاړ هيواد سمسور او هيواد والو ته ډاډ او سوکالي وريه برخه شي؛

دا ځکه چي : په داسي خبرو اترو کي به د هيواد د رواني ستونزي ټول ابعاد څيړل کيږي، واقعيتونه به په پام کي نيول کيږي، د ټولس کلن اسلامي جهاد ارزښتونو، د شهيدانو کرامو، او معلولو مجاهدينو ارمانونو او د مسلمان او مجاهد ملت غوښتنو ته په اعتبار ورکول کيږي ، دوي چي کله خپل بد سوابق او کړي ناروا عملونه وريه زړه کوي نو په داسي رښتينو خبرو اترو کي نه د ځان خير ويني له دي امله چي دوي خپل قام او ملت په اورونو سوځولي دي او نه يي بهرني باداران د داسي خبرو اترو اجازه ورکوي ؛

دوي داسي خبري اتري غواړي چي د هغو په نتيجه کي يوه داسي پروسه رامنځ ته شي چي د دوي ټولي، د افرادو او ډلو گټي او غوښتني په

دوهم مخ

خبرتيا

د شريعت اوونيزي ادارہ په بهر کي ميشته و افغان مـهاجرو ورونو ته چي په شريعت اوونيزه کي گـډون لري او يا په راتلونکي کي گډون کوي خبر ورکوي چي : د اشتراك وجه يوازي او يوازي په لاندي جاري بانکي حساب را وليږي او له نورو لارو نه يي له راليږلو نه ډډه وکړي .

Account No :
71-8. Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar

درنو هيواد والو! د افغان ستر اسلامي او کفر لړزونکي جهاد د علمي، فرهنگي او کلتوري اثارو ساتنه او خوندي کول د هر ښځينه او نارينه مسلمان افغان، ديني او ملي مسؤوليت او دنده ده

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریك
دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتك»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوې گڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ
په پاکستان کې (۲) کلداری
آدرس : کابل وزیراکبر خان مینه/سرك۱۱/ کور (٥۲۰)
تیلفون : ۲۱۳۸۱ - توزیع و شکایات ٦۲۸٥۹
پوست بکس : (٤۷۱)
په پېښور کې : دطالبانو نمایندگی/ تیلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱٥۷-۸۱٥٦۳۷
جاري حساب : ٤۰۲۸٥/۷ د افغانستان بانك مرکز

د سرمقالې پاتې برخه

کېنې خوندي شي ، د کرو جرمونو او خیانتونو له امله یې گریوان ته د ملت لاسونه ونه رسېږي؛ ځکه چې دغسې رنگ سازش په مسلمان او مجاهد ملت نه منلي او نه عملي کولای شي نو ځکه د خبرو اترو نه د وچ انکار په ځای غیر عملي او ناشوني شرطونه وړاندې کوي .

د افغانستان اسلامي دولت چې د خپل مسلمان او مجاهد ملت غوڅ اکثریت یې ملاتړ کوي په رښتیا سره د خبرو اترو له لارې په هېواد کې سوله او ارامي غواړي، د بندیانو د را خلاصولو شرط چې د خبرو لپاره وړاندې کوي هغه شرط برسېره په دې چې بشري مسئله ده د خبرو اترو لپاره د اعتماد فضا را منځ ته کوي او که د خبرو اترو مطلوبه نتیجه را ونه خېژي هم گټه یې دواړو خواووته رسېږي چې ملگري به یې د اسارت له ستونزو نه خلاص شي، د اسلامي دولت مشران چې اوس له دوی سره بندیان دي هغوی خو د خبرو اترو لپاره هلته تللي وو چې د ټولو ملي او بین المللي تعاملاتو په خلاف یې هلته اسیران کړي دي نو ځکه کیدای شي چې اسلامي دولت ددغسې بې اعتمادي په فضا کې خبرو ته ورسره کېني ؟

د اسلامي دولت د ښه نیت ثبوت له دې وړاندیز نه هم جوتېږي چې کله عبدالمالك خبرو ته نه حاضرېږي نو بیا دې د خلیلي او مسعود دولې په جلا جلا توگه خبرو اترو ته راوراندي شي ؛ خو ځرنگه چې دوی د خپل واك نه دي او پخپله تصمیم نشي نیولای نو ځکه ددغه وړاندیز په هکله چوپه خوله پاتې دي او اخیر به یې له ناکامه ردوي : د اسلامي دولت لوړ رتبه هیئت چې په دغو ورځو کې په اسلام اباد کې د ملل متحد د سولې استاځو ابراهیمي او ډاکتر ناربرت هول سره کتلي دي او سولې د رسیدلو لپاره یې مهم وړاندیزونه ورته کړي دي هغه هر یو په خپل ځای ډېر اساسي (بنسټیز) او ارزښتناك وړاندیز دي چې د افغانستان د اسلامي دولت ښه نیت، اخلاص او د سولې لپاره رښتیني چمتووالي جوتوي :

یو دا چې اسلامي دولت چمتو دي چې که مخالفین غواړي چې کرېدلي او مسلمان ملت ته د سر او مال د رانده تاوانونه ونه رسېږي نو د جنگ په دوران کې دې دواړه خواوې هوایي عملیات بند کړي، بل دا چې د سولې د بهیر د گړندي کولو لپاره دې دگاونډیو هیوادونو یو یو واکمن استاځی هم د سولې په هیئت کې ور شامل کړای شي تر څو د ټولو گاونډیانو سترگې په حقایقو خلاصې شي؛

بل دا چې : که ملل متحد غواړي چې له بهرنیو لاس وهنو څخه د ابهام پرده پورته او په ډاگه شي نو د افغانستان په ټولو هوایي ډگرو نو دې - که هغه د دولت یا د مخالفینو تر واك لاندې دي - د څارنې بیدار هیئتونه وټاکي تر څو مداخله کوونکي او د سولې بهرني دښمنان په ډاگه شي :

دا واړه هغه وړاندیزونه دي چې د سولې پروسه گړندي کولای او ډېر واقعیتونه رابرسیره کولای شي ، که ملل متحد دغه وړاندیزونه په پام کې نه نیسي او ځان بې توپیره ور نڅخه تیروي نو د افغانستان د مسئلې په حل کې به یې اخلاص او بې طرفي بې له شکه تر پوښتنې لاندې راشي، که له دغو حقایقو او واقعیتونو سره سره ملل متحد او تړې وال د جگړې د دوام پړه د اسلامي دولت په مخالفینو نه اچوي نو دا به له واقعیتونو او حقایقو نه سترگې پټول او سخته بې عدالتي وي .

والله یقول الحق و هو یهدي السبیل

امریکائي دولتي او عدلي مقامات دې پوه شي چې:

اسلامي امت مور خرڅونکي نه، بلکه مور پالونکي دي

بلال احمد "بری"

«والجنة تحت اقدام الامهات»
نبوي حدیث

دا مقاله د امریکي د دولت د ورجینیا د ایالت د یهود الاصله څارنوال رابرت. ف. هارن Robert F.Horan په جواب کې لیکل کېږي چې دغه امریکایي دولتي څارنوال د روان کال د جون د میاشتې پر ۲۳ ورځ - د امریکي په دولتي محکمه او د فاکس تلویزیون کې وویل او په رسمي توگه یې اعلان وکړ چې « زه نه پوهیږم چې ولې د امریکي جمهور رئیس بل کلنټن د ایمل کاسي د گرفتاري پرسر دوه میلیونه ډالره ایښي دي، دا پیسې زما په نظر ډیرې زیاتې دي، زه یقین لرم څو زره ډالرو به عیني کار کړي وای لکه دوه میلیونه ډالرو. ځکه پښتونخواه (پښتانه او بلوچ) دا سیمه (کوټه ، بلوچستان) ډېره وروسته پاتې ده او ددې سیمې خلك حاضر دي چې خپلې میندې په څو زره ډالرو په آسانۍ سره خرڅې کړي ».
العیاذ بالله

یادونه : ځرنگه چې ما د خپل ژوند ٥ کاله د بلوچستان او پښتونخواه په سیمو کې تیر کړیدي او تر ١٥ کالو زیات ژوند مې په امریکا او هم د ورجینیا په ایالت کې تیر کړیدي او پدې دوه ملکو کې د سیاسي ژوند څخه وروسته دا صلاحیت لرم چې ددې دوه سیمو (امریکي او پښتونخواه) د خلکو پر عادتو او ناموس داري وغږیږم .

د پېښې لنډه تاریخچه :

د کاشیانو د تاریخي کلي یو د ننگ پښتون ٢٥ کلن ځوان د کال ١٩٩٣ د جنوري د میاشتې په پخنې کې د امریکي پایتخت (واشنگټن) په زړه کې خپل ټوپك اوړي ته کې خپل زاړه موټر ته یې پوندده ورکړه او مخ د امریکي د حکومت د مرکزي استخباراتو د اداري یعني (CIA) پر لوري روان شو ، او ددې نړیوالي اداري یعني د امریکي د مرکزي استخباراتو د اداري په خوله کې سنگر او خزه شو .

پښتون، ځوان کاسي د خپل ټوپك ماشې ته گوته ورواچوله او د «الله اکبر» د تکبیر د ویلو سره یې ددې اداري، دوه تنه ، استخباراتي ماموړین ځای پر ځای وغزول، او په همدغه سپین او روښانه سهار یې د امریکي په پایتخت او د سپینې ماڼۍ تر څنگ د امریکي د مرکزي دولت تر نظر لاندې درې نور امریکایي استخباراتي کسان ژخمیان کړل . چې پدې حساب دې ځوان دوه امریکایان مړه او درې زخمي کړل .

ځوان ایمل کاسي دا عملیات په کامیابۍ سرته ورسول او خپل ځان یې د امریکي هوایي ډگر ته ورساوه او د هغه رانیول شوي ټکټ په ذریعه په « PIA » الوتکه کې سپور شو او ځان یې روغ رمټ خپل ملك پاکستان او خپل کلي کورته راورساوه .

دا خبره تر اوسه یوه معمی ده چې ځوان ایمل کاسي ولې او د څه له درکه پداسې حال کې دا کار وکې چې په سد و او عقل یې هم پوره کار کاوه ؟ د امریکي د دولت (CIA) هم دا حال تر اوسه چانه ندي ویلي !.

په همدې ورځ د امریکي دولت او (CIA) چې اکثره کارکوونکي یې یهودان دي ددې پېښې په باب لکه مجان سرونه ټکول او حیران ول چې ځرنگه یو مسلمان پښتون ځوان، د امریکي د پایتخت «واشنگټن» په زړه کې په سپینه ورځ داسې کار وکړ، او هم د امریکي د مخفي پولیسو (FBI)د ټولو تخنیکي او مادي امکاناتو سره سره ، کاسي د دوی له منگلو څخه ځان وژغوري او په میړانه او مهارت خپل سنگر ته ځان ورسوي .

امریکایي مقاماتو په تلویزیونو او اخبارو او راډیوگانو کې د ایمل کاسي دا عمل یوه تروریستي پیښه وگڼله او دا خبرونه یې د ځان په گټه په امریکا او نړۍ کې داسې خپاره کړل، چې گواکې ایمل کاسي یو بد سړی دی او دا عملیه یې یوه تروریستي عملیه وگڼله او داسې اعلان یې خپور کړی چې: « هر چا که ایمل کاسي و امریکایي مقاماتو او(CIA)ته معرفي کړ او ژوندی یې ور وسپاره هغه ته به د امریکي حکومت دوه میلیونه ډالره، انعام ورکوي » .

پنځه کاله ایمل کاسي له خپل دښمن (CIA) څخه د افغانستان او پاکستان په غرو او دښتو کې پټ گرزیدي چې بالاخره دغه زړه ورځوان د دوه ملیونو ډالرو په بدل کې پداسې حال کې د امریکي د دولت جاسوسانو ته په پاکستان کې وسپارل شو چې ځوان ایمل کاسي په خوازه خوب بیده ؤ ، چې د پاکستان د اسلامي دولت په دننه کې (CIA) او د هغه ایجنټانو دده لاسونه زولنې ور واچولې او پدې توگه یې ځوان کاسي د پاکستان په دننه کې د امریکي د دولت د (CIA) خلکو ته وروسپاره او د پاکستان د دولتي ادارو په مرسته ایمل کاسي د مسلمانانو پاکستاني ماموریتو په لاسو په الوتکه کې کښېنول شو او دا الوتکه له پاکستان څخه پرته د (CIA)و خواته په پرواز شوه . او د یوه اسلامي هیواد له خوا مسلمان متهم کفري طاقت ته بیله لمړنی تحقیقاتو او د اتهام د ثبوت څخه تسلیم شو .

دلته دا خبره د یادولو وړ ده چې د بین المللي حقوقو په قانوني چوکات کې د دوستو دولتو تر منځ معمولاً د مجرمینو د اعادې قانون لاس لیك کیږي او د هغه متهم په باب چې په لومړني ملك کې یې غیر قانوني عمل کړي وي او هغه متهم یو د بل ملك نه تښتیدلی وي، اصولاً مقدماتي تحقیقات او د جرم ثبوت په هغه دولت کې کیږي چې متهم یې تابعیت ولري او لدې وروسته همدغه متهم د مجرمینو د نړیوال اعادې قانون په اساس، د یوه بل متهم په مقابل کې چې په دوهم ملك کې تحقیقات ترې شوي وي او جرم یې هم ثابت شوي وي په بدل کې اعاده کیږي، چې د پاکستان دولتي اداري ، ددې نړیوالي قاعدې او اصول بغیر په ډیر اخلاص ځوان ایمل کاسي، یې له دې چې لمړنی تحقیقات یې په پاکستان کې وشي او یې له دې چې یو امریکایي متهم اکیدي شي چې په پاکستان کې په د چرسو د قاچاقو ډیر امریکایي متهمین موجود وي! د هغه په مقابل کې معاوضه شي دا کار د بین المللي اصولو خلاف اجرا کړ چې دا عمل د اعتراض وړخبره ده

د تشویش خبره

د پوښتنې او سوال ځای دا دی ، چې ولې د امریکي د دولت د عدلیې مقاماتو په رسمي توگه د نړۍ د مسلمانانو او د دوی په اصطلاح ودریمې نړۍ ته تل په سپکه گوري او تر دې حده چې په رسمي توگه او دولتي سطح مور مسلمانانو خلکو (د دریمې نړۍ خلکو) اهانت کوي . ددې سوال جواب دا دی چې د غرب (اروپا) او امریکي په ټولنه کې تر اوسه دوي(یعنې سور غاړي امریکایان او اروپایان چې دوي ورته پخپله اصطلاح Red nicks هم وایي د برمنگهم (انگلستان) بن(جرمني) او وایت هاوس (امریکا - واشنگټن) کې په قصرو کې ناست خلك او د دوی یهود الاصله (اکثریت) مشاورین پدې عقیده دي ، چې د دریمې نړۍ خلك مخصوصاً مسلمانان او د دوی په ملکو کې میشته تور پوستي، آسیایان، افریقایان د خدای د مخلوق دریمه درجه او ټیټ خلك دي، *چې په تاریخي لحاظ باید تل په سپکه سترگه ورته وکتل شي او توهین شي او دا کار په دوی کې روا او هم سم دي .

دا هغه واقعیت دی چې ما د خپل ١٨ کلني ژوند څخه چې د امریکي او اروپا په زیاترو رسمي ځایو کې کشف او درك کړیدي ، اوس نو که د امریکي د دولت د ورجینیا د ایالت رسمي سورغاړي Red nicks یهود الاصله څارنوال راولاړېږي او د ایمل کاسي په جزایي مسئله کې د افغانستان او پاکستان د سیمو پښتنو او مسلمانانو ته په خلاصه خوله وایي چې :

«ددې سیمې خلك (مسلمانان او پښتانه - د افغانستان او پاکستان د سرحدي سیمو په گډون ، دومره ذلیل او خوار دي، چې د کمو ډالرو په مقابل کې خپلې میندې هم امریکایي مقاماتو ته لاس ته راوړي سپاري) د دوي په حساب دا خبره بده نده .

زه په یقین سره تاسې ته وایم چې که دغه جمله (چې ډیره اهانت امیزه ده ! د جمهور رئیس بل کلنټن په مخ کې ، او یا د هر یوه امریکایي وزیر ، قاضي او عالي رتبه مامور او په مجموع کې د سور غاړو امریکائیانو په مخ کې وویل شي ، هیڅوك به تعجب ونکړي . او د ټولو امریکایانو دپاره دا خبره عادي ده ، چې باید د دریمې نړۍ خلکو او مخصوصاً مسلمانانو ته دې په سپکه سترگه وکتل شي او دا هغه اخلاقي کلتور دي، چې د امریکي په ټولنه کې (مخصوصاً په اداري ، قضایي او سیاسي نظام کې شته)

یوه دقیقه حقوقي محاسبه مقایسوي اخلاق :

په کال ١٩٨٧ کې د امریکي د هالیوډ په فلمي سټډیو گانو کې یو فلم جوړ شو چې نوم یې Undecent Proposal یا، بې عصمته پیشنهاد » ؤ . ددې فلم روح او فلسفه داسې وه چې یو امریکایي بډای د امریکي (Rich Man) د ټولنې یو متموله سړی او د ښایستي میرمنې میړه ته په خلاصه خوله وایي چې :

« زه به یو میلیون ډالره تن در کړم او فقط ستا ښایسته ماینه یوه شپه زما سره پخپله خوښه په بستره کې پرېږده چې ټوله شپه زه د هغې سره تیره کړم » .

متوسط الحاله امریکایي طبعاً دا پیشنهاد مني او سبانه یې میرمن یو میلیون ډالر په بکس کې پداسې حال کې چې شپه یې د بډای امریکایي سره تیره کړیده راوړسوي .

دې فلم د امریکي په ټولنه کې غوغا جوړه کړه او ځینې خلکو د داسې فلم په ستوډلو چې هغه دې د امریکي ټولنې یې عصمتي او ذلت نړۍ ته وښيي احتجاج وکړ چې شمیر یې ډیر لږ ؤ .

دوې میاشتې وروسته ددې اعتراض څخه ددې فلم «بې عصمته پیشنهاد» د واړکښر او جوړوونکي د امریکي د ټولنې عامه آراو ته مراجعه وکړه، او یوه عمومي رایې گیرې یې په تلفونو او کورنیو کې وکړه (چې دا کار د امریکي په ټولنه کې معمول او آسان هم دی) - د رأي گیرې سوال دا ؤ چې د امریکي په ټولنه کې څو فیصده خلك حاضر دي، چې خپلې خویندې میندې او ماندینې د یوه میلون ډالر په مقابل کې فقط یوه پوره شپه د یوه بډاي امریکایي په بستره او غیر کې ورو سپاري او سهار یو ملیون ډالر کورته راوړي .

دقیقي احصائیې او راي گیرې ښکاره کړه چې ٥ . ٨٩ ٪ امریکایي گورنیو او د خویندو میندو او ماندینو خاوندانو په ښکاره توگه په صریح انداز وویل چې بلې مور حاضر یو د یو میلون ډالرو په عوض کې دا کار وکړو، او دا شرط هم ومنو چې زمونږ لومونه او زمونږ د میندو خویندو او ماندینو نومونه دې هم نشر او خپاره شي پروا نلري !

د تعجب خبره خو لا دا وه چې پدې سروې او احصائیه گیرۍ کې د سځو (میندو خویندو او ماندینو) له لوري هم مخکښې او قبلي رضا مندي حاصله شوې وه ددې فلم ویډیو کاپي د نړۍ په هره برخه کې شته تاسې یې په پاکستان کې هم کتلای شي .

زما سوال دا دی چې آیا د امریکي د وریجینیا د سیمې د رسمي څارنوال Robert Horan - ځای به پدې احصائیه کې چیرې وي؟په ٥ . ٨٩٪ کې طبعاً په لمړي سر کې؟ .

زه بلال احمد بري د یوه اسلامي او مدني حقوق پوه په حیث (چې رسمي اسناد او شهادت نامې هم پدې مسلك کې لرم) د امریکي د دولت د وریجینیا د آیالت د څارنوال څخه غوارم چې مهرباني وکړي

راځۍ د بې عصمتي پیشنهاد د Undecen Proposal راي گیرې په پاکستان «مخصوصاً په پښتونخواه ، بلوچستان ، کوټې ، کندهار او ټول افغانستان او حتی اسلامي نړۍ) کې وکړي او تاسې به وگورې چې د رایه گیرې نتیجه به څه وي !! العیاذ بالله

اصولاً اسلامي امت او افغاني او پښتې ټولنې او پاکستاني اسلامي ټولنه هیڅکله او په هیڅ قیمت نه حاضرېږي ، چې خپلې میندې وپلورې او د ډالرو په مقابل کې دومره ذلیل او خوار واقع شي لکه غربي او امریکي ټولنه چې فکر کوي د افغانستان د مجاهد ملت له لوري او د پاکستان د ټولنې سره په ارتباط باید ووایم چې ددې سیمې خلك هغه وخت چې روسیانو او کمونستانو په کال ١٩٧٩ د دسمبر د میاشتې په ٢٧ پر افغانستان را ودانگل نو دا یوه موجوده وه چې ددې سیمې د مسلمانانو میندو او خویندو ته به بې عزتي پیښه شي نتیجه دا شوه چې افغان مسلمان بچي د خپلو دیني مقدساتو د ساتنې لپاره چې د مور عزت او پت هم پکې شامل دي یو نیم میلیون ککرې خاورې کړې او خپلې میندې یې له بې عزتۍ وساتلې .

ځرنگه چې د پاکستان انصار ملت او مسلمانانو د افغانانو سره د روسانو په ضد د جهاد پر وخت د یوه مسلمان ورور او خواخوږي وظیفه اجرا کړیده (په ملي سطح) او پر افغانستان یاندې د روسانو ، ملحدانو د تهاجم پر وخت کې زمونږ د دین وطن مور او خور په ساتلو کې او د هغوی د پت د خوندي کیدو په خاطر اسلامي او د گاونډیتوب تودې هیلې او مرستې کړېدي .

نن چې د امریکې څارنوال او یهود الاصله کافر له لوري د پاکستاني مسلم ورور او د کوټې او بلوچستان د سیمو خلکو ته چې له افغانستان سره جوخت پروت دې هغو او د دوی میندو ته سپك گوري او ناروا غیر اسلامي او غیر انساني بیانونه ورکوي دا د هر افغان مسلمان او پښتانه وظیفه ده چې د پاکستان د ملت مور خپله مور وگڼي او د هغوی عزت خپل عزت وبولي . ځکه د علامه اقبال په قول :

ایك هو مسلم حرم کي پاسباني کیلي
نیل کي ساحل سے لیکرتابخاك کا شغر
نوریبا

د شریعت تبصره

د شریعت تبصره

د جهادي کتابتون پرانستل د طالبانو د اسلامي تحریك د جهاد پالنې لویه بیلگه ده

لکه ځرنگه چې د جهاد سپیڅلي فریضه په اسلامي شریعت او ټولنه کې د (لوړې څوکې) حیثیت او مقام لري همدا راز د جهاد ساتنه او پالنه او اسلامي امت ته د جهادي روحیې تلقینول او په اسلامي ټولنه کې د جهادي فکر ژوندي ساتل هم د اسلامي امت د قیام، قوام او پایست لپاره اساسي بنسټیز شرط او لازمي صفت گڼل کیږي . کچیرې تاریخ ته حغلند نظر وکړو نو وبه ګورو چې څو اسلامي امت د جهاد سپیڅلي لاره خپله کړي وه او د جهاد جذبه د مسلمانانو په رگونو کې ځپانده وه نو اسلامي امت له هره ارخه په خپلو پښو ولاړ و او وگړنیزي او ټولنیزي سیاسي، اقتصادي ، علمي او کلتوري خپلواکي او ځیرمنۍ یې درلودې او په هر نوښت یې لاس پورې کاوه چې په دې دگرونو کې یې د ټولو نړیوالو د استاد او محسن حیثیت خپل کړي و او له هغه وخته چې د جهد جذبه د مسلمانانو په زړوکې په سرست او کمسته شوه او د اسلامي ټولنو واکدارانو او حکمرانانو عیاشي او ځان پالنې ته مخه کړه نو د اسلامي امت په کمین کې ناست دښمنان په اسانۍ سره وتوانیدل چې د اسلامي ټولنو په جغرافیوي او نظریاتي حدود و برغلونه پیل او د اسلامي امت پورته یاد شوي تول افتخارات او پانگې د دوی له لاسه ویاسي - چې اسلامي امت په دې ترتیب خپل نوښت، واکمني حتی خپل پوره موجودیت له لاسه ورکړ او د ژوند په هر دگر کې د بل لاس ته محتاج او ار شو لکه د اسلام ستر خلیفه حضرت ابوبکر صدیق «رض» چې په خپلې لومړنۍ خطبه کې دې ټکي ته اشاره کړیده او فرمایلي یې دي : « هیڅوك به د خدای «ج» په لاره کې جهاد پرېنږدي مگر خدای «ج» به پرې عام افت نازل کړي» او همداسې وهم شول مسلمانانو جهاد ته شا کړه او خدای«ج» په ډول ډول ناروغیو اخته کړل.

د نړیوال کفر د دسیسو په نتیجه کې اسلامي امت د ډیر وخت لپاره له جهاد نه لیرې وساتل شو حتی کفار په دې وتوانیدل چې هغه مقدس جنگونه او مبارزې چې د اسلامي خلافت دا عادې او د مسلمانانو د حقه حقوقو د غوښتنې لپاره تر سره کیدل په بین المللي سطحه تحریم کړي تر څو مسلمانان بیا ونه توانیږي چې د اسلامي دعوت د خپرولو لپاره د جهاد په نوم هڅې او فعالیتونه ولري .

هو کفار په دې ټولو مواردو کې بریالي او د نړۍ توښتونه او واگې یې په لاس کې شول او مسلمانانو د هغوی علمي ، سیاسي، کلتوري مراکزوته د شاگردي او احتیاج بستره په شا کړه خو د افغانستان باتور ولس چې د تاریخ په اوږدوکې د یو غیرتي او با شهامته ملت په توگه پاتې شویدي او له اسلام سره یې تل خپله مینه او ترون ساتلې دي، د کمونستي سکیلاك د حاکمیت د رنگولو لپاره د جهاد غر پورته کړ دیرې قرباني یې ورکړې او د جهاد ارزښت او اهمیت یې د مستکبرینو په وړاندې په ملي او بین المللي سطحه یو حل بیا ژوندي او د خپل هیواد له لاسه وتلې دیني او ملي حاکمیت یې بیرته تر لاسه کړ او هغه حواك یې چې تر ستونې پورې په نظامي ، سیاسي او ایدیولوژیکي وسلو سمبال وو له ماتې او نابودي سره مخ کړ دا ټول د اسلامي جهاد فیض او برکت و په نظامي دگر کې خو مجاهدینو لا مثاله بریالیتوبونه تر لاسه کړل خو متأسفانه په سیاسي دگر کې د ځنو جهادي زعامتونو د بې کفایتي په نتیجه کې زمونږ سوگند خوړلي دښمنان وتوانیدل چې د جهاد ثمره مو له منگولونه وتښتوي او د بوي لوبې بین المللي او سیمه ایزي توطیې په نتیجه کې یې زمونږ افتخارات له خاورو سره خاورې کړل . او زمونږ د جهاد په ضد مو أمرې او دسیسې په همدې ځای او تر همدې حده محدودې پاتې نه شولې بلکه استعمار او د جهاد دښمنان په دې هم وتوانیدل چې په ډیر مهارت او چالاکۍ سره د جهاد ټول تاریخي او نظامي اسناد او شواهد لکه وېجار شوي ټانگونه الوتکې او ... چې په راتلونکي کې یې د یو ژوندي سهم او با کفایت استاد او الهام ښوونکي موجود حیثیت خپل کاوه له منځني او دگرنه وباسي .

په دې یې هم زړه یخ نه شو حتی په کلکه یې دا هم غوښتل چې د جهاد علمي، فرهنگي ، کلتوري اثار او قلمي لیکنې چې دا هم د راتلونکي نسل لپاره د الهام او هڅولو لوی مصدر او عامل گڼل کیږي هم له منځه وباسي دا د دوی مکر او حیلې وې چې متاسفانه تر ډیره، حده په کې بریالي هم شول خو ځرنگه چې خدای«ج» د محسنینو اجرونه نه ضایع کوي نو د ټولنې سپیڅلي او روحاني قشر (طالبانو) ته یې دا همت ورکړ چې د دوهم ځل لپاره کتاب د مسجد او مدرسې په طاقچه او قلم په جیب کې کېږدي او توري او ټوپك ته لاس کړي چې الحمد لله د دوی د میړانې په نتیجه کې او د خدای«ج» په نصرت او د ولس د پراخ ملاتړ په اساس د هیواد له سلو نه له اتیا دیره برخه له ناخوالو پاکه شوه او دابې هم وښتیله چې د خپل مقدس جهاد شهیدان په پالې او د جهاد پاتې شوي اثار او نسې نسانې به د دښمن له تاراکونونه ژغوري چې په دې ترځ کې یې څو حلې د پلیگون په سپیڅلي مشهد کې درنې غونډې هم جوړې کړې او د هغو علمي نظمي او نثري اثارو او عظیمي پانگې چې د نظامي اثارو په جبر ضایع شوي نه دي او زمونږ دا دې کلتوري تاریخ یو ځانگړي باب تشکیلوي اغیزمن گام واخیست رښتیا خبره دا ده چې دا اثار د قرباني ، شجاعت او سرښندنې له پیغام نه ډك ،او د خپلواکي الهام ترې اخستل کیږي او د هیڅجا تر تاثیر لاندې راغلي نه دي همدا راز ددې اثارو بویل امتیاز دا دي چې له فحشاو، ناوړو الفاظو او... نه په کې دده شویده همدا وجه ده چې زمونږ د مجاهد ولس حتی ټول اسلامي امت لپاره لویه علمي او ادبي پانگه گڼل کیږي .

د طالبانو د اسلامي تحریك او اسلامي دولت لخوا ددې اثارو ساتنه او دجهادي کتابتون پرانستل په رښتیا چې لویه او د اهمیت ور خبر او په دې حماسو شیبو کې د لوی دیني . جهادي او تاریخي مسؤولیت تر سره کول دي، د جهادي کتابتون پرانستلو او د طالبانو د اسلامي تحریك له پیل نه تر اوسه د . دوی کارنامو او چال چلند عملاً وسوده چې طالبان رښتوني مجاهدین او جهاد پالونکي دي دوی د همدې هدف لپاره وسلې ته لاس کړې او تر پایه به د جهاد د تقدس او اصالت د تحفظ لپاره هلې ځلې کوي .
ان شاء الله

انسان اشرف المخلوقات دي

قاري مولوي الف الدین «عزیزي»

دا یو ځرگند حقیقت دي چې انسان اشرف المخلوقات او په ځمکه د خدای خلیفه دی چې دي به د خدای«ج» احکام په خپل ځان اونورو خلکو تطبیقوي د انسان لپاره په ځمکه د خلافت مقام د خدای په کتاب کې ثابت دي او د خدای د رسول «ص» له وینا څخه هم ځرگندیږي کله چې الله«ج» ملایکو ته د انسان د پیدایښت په هکله یادونه کوي لکه چې فرمایي : ترجمه :(زه گرځوونکی یم په ځمکه کې خلیفه) سوره البقره آیة ٢٩ د خلیفه وظیفه دا ده چې د خدای «ج» احکام په ځمکه نافذ کړي نو انسان هم باید د الله«ج» احکام په تمامه معنی په ځان عملي کړي او هم به یې په نورو عملي کړي که څه هم دا عملي کول په خصوصي ژوند کې وي او که په عام ژوند کې ځکه چې اسلام داسې نظام دي چې د بشري ژوند په ټولو برخوکې باید تطبیق شي .

خدای«ج» ځکه انسان خلیفه وټاکه چې په ځمکه کې په بل چا کې ددې ذمه واري اهلیت نه وو او د خدای«ج» نیابت کول او د هغه دستورات په تمامه معنی سره پیاده کول ډیر گران کار دي لکه ځنگه چې خدای«ج» دغې ټاکنې ته پدې معنی اشاره کوي (یقیناً مونږ پیش کړ امانت یعنې (عهده د اوامرو او نواهیو) په آسمانونو ، ځمکو او غرونو باندې نو منعه راوړه دوی له دې چې بارېې کړي او عاجزي یې راوړه لدې بارڅخه او بار کړه انسان دا ذمه واري)سورة احزاب آیت ٧١

د وضاحت لپاره یوه خبره مخکې ضروري ده ،د انسان لفظ چې پدې آیت کې ذکر شویدی یا لدې نه مخکې چې «انسان» ذکر شوي ، نو په دواړو ځایوکې مطلب له یوازې آدم «ع» څخه ندي بلکه هر انسان ده . اگر چې په دواړو ځایو کې لمړې ټاکنه او مسؤولیت د آدم «ع» بیانیږي لکه چې راتلونکې وخت دنیا کې دا دواړه خبرې چې مقام د خلافت دي او ذمه واري د امانت ده دا دواړه کارونه په اعتبار د استعداد سره نوع د انسان ته حواله کیږي یعنې الله«ج» په انسان کې ددې دواړو خبرو او کارونو توان ایښي دي .

او مطلب له امانت څخه چې په آیت کې ذکر شوي «اوامر او نواهي» دي ځکه چې که په عامه‌توگه اسلامي نظام ته نظر واچوو نو ددې نورو خبرو رجع همدې دواړو فریقو ته کیږي نو لدې بیان څخه په ښکاره ډول معلومیږي چې د انسان مسؤولیت خلافت او نیابت دي .

الله«ج» چې انسان د خلافت لپاره ټاکلی دي نو دي یې د نورو ټولو مخلوقاتو په پرتله په ظاهري باطني او معنوي شکلا وښوولی دي او یوازې د انسان د ظاهري صورت په هکله وېلای شو چې انسان له سپوږمۍ او لمر څخه ښایسته دي ددې مطلب د وضاحت لپاره یو قصه را نقلوم : هارون الرشید خپلې ښځې ته وویل چې که چیرته ، ته له سپوږمۍ څخه ښکلې او ښایسته نه یې نو په ما باندې طلاقه یې لدې څخه وروسته هارون الرشید د وخت ټول غښتلي عالمان راټول کړل چې ایا ښځه یې پدې خبره طلاقیږي او که ؟ نورو علماؤ فتوی ورکړه چې طلاقیږي ځکه چې ښځه چیرته له سپوږمۍ څخه ښایسته وي ؟ لکن

صفحه ٤ و

کلمه التوحید. لا اله الا الله

احمد شاه «وحدت»

* این کلمه ایست که ابو لأنبیا «ع» امام الحنفا، و قدوة الموحدین حضرت ابراهیم«ع» براي پیروان و اتباع خود (انبیاء«ع») و متابعین به میراث گذاشته و تا قیامت جاري خواهد بود.
* این کلمه ایست که آسمانها و زمین و کل کائنات با او قایم است.
* این کلمه ایست که باعث بقاي معنوي جمیع ملل است.
* این کلمه ایست که بنیاد و نصب العین قبله هاي مسلمین است.
* این کلمه ایست که حق عاصم و پناه دهنده خون و اموال عباد در دنیا است.
* این کلمه ایست که نجات دهنده از عذاب قبر و دوزخ است.
* این کلمه ایست که منشور دخول جنت است
* این کلمه ایست که وسیله تقرب الي الله است
* این کلمه ایست که بنیاد ایمان و اسلام است
* این کلمه ایست که فارق سعادت وشقاوت است.
* این کلمه ایست که مفتاح جنت است.
* این کلمه ایست که فارق کفر و اسلام است.

مروري اوښکي

امنه سرخرودي

شړی می راتوی په گریوانه کښي ملغلري اوښکی
څومره تودي دي خدایه! دغه مسافري اوښکی
د یارله هجره می په مخ کي اوښکو لاري وکړي
امیل امیل می په تنو څي لړي بری اوښکی
اوښکو د سترگو مي رنگ واخسته د زړه له وینو
خوناب خوناب شوي له قسمته مروري اوښکی
ما ژړوي دا خپل نصیب او د رقیب ناکردي
څکه ترخي می شوې خوږي شکري اوښکی
زما د هیلو کاروان بوور توپاني سمندر
چی تویوم پسی له سترگو خیالیگري اوښکی
اوس گرځوم د سوال لمن په دلبرانو پسی
چي می په اوښکو باندی توي کړي نخره گري اوښکی
د «امني» د سوي اه اور کي هم مري نه شولي
څه په هنر یي په مخ راغلي زورورې اوښکي

داٌ زمونږه کور

اسد الله «لودین»

دا د ننگیالو وطن، دا د مړنیو کور
دا د افغانانو ځاي دا د دښمنانو گور
دلته ننگیالي اوسي دلته میړني اوسي
دا ده د عنقا خاله دلته کتي نشي نور
دي وطن خواري هم باج اخلي بازونونه
دلته فرعونان د وخت تیښ سردي کمزور
دلته په ننگ پورته سر چاته ټیټي دي نه شي
دلته د ظالم په کور تل بل شوي اور
دلته شیطاني قوت وخت په وخت مات شوي دي
دلته قوتونه ډیر، مات شوي او نسکور
دغه زمونږ پاك وطن دا د عظمتو نښه
دا د لورو غرو وطن پروت دي پکي زور
دا د مسلمانو کور اوسي مسلمان پکي
دلته هر افغان دي ټول یو بل سره ورور
ننگ ایمان «لودینه» دي دا دي وطن شعار
ننگ غیرت چي نلري ژوند یي دي پیغور

د ادب مرغلري

هماي استقلال میهن

هاشمي

همای جشن استقلال میهن
جواهر پر و زرین بال میهن
ز قلب آسمان صاف و نیلي
شده جولانگر آن اقبال میهن
من این مرغ سعادت را، عزیزان
که مي چرخد به قلب سال میهن
به اطفال و جوانان و بزرگان
که هستند عاشق احوال میهن
ز قلب و جان تبریك و مبارك
همي گویم پي اکمال میهن
در این جشن سعادتمند ملت
گشوده بالها، آمال میهن
عبیر شهپرش از شرق تا غرب
بیفشاندست عطر حال میهن
جهان کردند استشمام آنخال
که عطرش است استقلال میهن
روان هاشمي آزادي خواه است
براي ملت و اجلال میهن

پر هرونه

ملا اسد الله «حنیفي»

لري رانه لاړ شه، انگارونه مي په زړه کي دي
اوس به دي لمبه کړم، سره اورونه مي په زړه کي دي
زړه زما کړم کړم د تکلو ناکردو کړلو
بو پر هر څونه دي، پرهرونه مي په زړه کي دي
ټول جهان به رنگ کړمه که اه له خولي نه وباسم
تښته رانه تښته، چي ډنډونه مي په زړه کي دي
زه لکه جیحون په سمه اوغر په ځپو شوي یم
هر څه به په مخه کړم، موجونه مي په زړه کي دي
توري تروگمي به په رڼا باندي بدلي کرم
شمعه یم بلیږم، څراغونه مي په زړه کي دي
زه دغه شاهین یم، چي په دنگو غروکي ژوند کوي
څمه کهکشان ته، تکلونه مي په زړه کي دي
ځان به رسومه خپل منزل ته، که مولا کول
ځغلنده روان یم، همتونه مي په زړه کي دي
کور کهول به پاك کړم د کمون له نوکرانو نه
زوي د مسلمان یم، امیدونه مي په زړه کي دي
تندر د اسمان غوندي راالویږم د دښمن په کور
وایي «حنیفي» انتقامونه مي په زړه کي دي

مدیحت بر طلیعه و زین شریعت

ملا آغا «سالك»

شد نمایان کوکب اقبال اندر آسمان
کز فروغش شد منور سر زمین مؤمنان
یا گلي بشگفت، اندر بوستان معرفت
گشته گویا موسم سرما بهار ناگهان
بلبل اسلام باشد، یا سخنگوي جهاد
عندلیب باغ رضوان رسول «ص» انس وجان
طالبان و صالحان را مرشد کامل بود
غازیان و جاهدان را، راز دار بي زبان
مرصد توحیدیان، مصباح اهل سنت است
شاهد و الگوي تاریخ جهاد قهرمان
اهل ایمان، جند رحمان را دلیل راه بود
رشد عقل و روح عشق امت اسلامیان
حجت قاطع ملت یا که برهان امم
رهنمون هر مجاهد مدعاي مخلصان
این خجسته طالع مطبوع و مقبول همه
او مبارك عارض هر صاحب علم و بیان
از خلوص بهره منذان قلم شد جلوه گر
منبع انوار وحدت، مشعل دعوتگران
نام مقبولش شدم جویا ز ارباب عقول
نام شیرینش «شریعت» شد به نزد عارفان
در بر او بس نهفته نکته ها، اندیشه ها
تحفه هاي تازه و تراز بر خوانند گان
مبدهد رشد و طراوت دعوت اسلام را
در ضمیرش چون نهفته این پیام جاودان
شارح آلام ملت رهگشاي مشکلات
یا ادیب و ترجمان نهضت دین پروران
دفتر مشحون افکار جهاد و هجرت است
سیف الا الله به فرق ملحدین و مشرکان
مکتب الحاد و باطل را ز بنیاد افگند
مکرو کید دشمنان را محو سازد بي گمان
از مساعي صاحبان فکرو دانش در فروغ
خلعت طبع لطیفش شد مزین همزمان
شد تلاش و اجتهاد ما بتوفیق خدا «ج»
تا «شریعت» جاري گردد در دیارو در جهان
رمز پیروزي، نداي وحدت و اخوت بود
ارمغان آور پیام عدل و آزادي عیان
از خداوند«ج» مسئلت دارم همي انفاذ شرع
شعر آید نظم «سالك» صدق باید آنچنان

چوکی

گلستان

تل مي ته پښتایي هره خوادي گرځوم چوکي
جار شمه قربان شم نه دي چاته ورکوم چوکي
دین ایمان مي ته بي خیر که وران وي اخرت زما
تا به زه ساتمه په دلبا وي ویر عزت حما
بعضي احمقان دي په توتو بي غولوم چوکي
جارشمه قربان شم نه دي چاته ورکوم چوکي
ستا په سر مي منلي د جهاد په نامه کړي دي
کونډي یتیماني د شهید مي ژړ ولي دي
اوس دي گوره هیڅ کله بل چا ته نه پریږدم چوکي
جارشمه قربان شم نه دي چاته ورکوم چوکي
ستا له برکته په جهان کي زه یادیږمه
زه کله مسکو هند و ایران ته دعوت کیږمه
څکه هره ورځ دي په خپل سترگو ښکلوم چوکي
دا چي ستا په سر مي د کابل خلك وژلي دي
خپل کورونه بي وران شول ما شپیته زره شمارلي دي
نور هم که تباه شي څه پروایي نه لرم چوکي
